ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-07

ماخذ تحقیقی مجلہ

OPEN ACCESS

CC BY NC

**نګینه بي بي**
لیکچرر پښتو څانګه عبدالولي خان پوهنتون مردان'
خیبر پښتونخوا

# د لائق زاده لائق د کتاب "ماته آئینه" فني اؤ فکري جائزه

**Nagina Bibi***
Lecturer, Pashto Department, Abdul Wali Khan University Mardan, Khyber Pakhtunkhwa.

***Corresponding Author:** nagina@awkum.edu.pk

## A Technical and Intellectual Review of “Mata Aina” Written by Laiq Zada Laiq

Laiq Zada Laiq is a shining star who has contributed many literary marvels to the Pashto literature. He has immensely added in poetry, prose, fiction or drama and column writing or broadcasting ultimately exalting his stature in Pashto literature. This article undertakes a technical and intellectual review of “Mata Aina” his first literary masterpiece in fiction. Technically, all the fictional tales in this book have has narrated the stories concisely in perfect settings and a rational and logical agreement between the events has been preserved. The psychology and age of the characters are also according to the stories and they are the representation of the intellectual situation of our society. Strong scenery in every story is the strength of Mata Aina but the similarity in depiction sometimes makes reading less entertaining. The narration and cohesiveness in the stories also strengthen the quality of this book. In the end, intellectual the book Mata Aina of Laiq Zada Laiq also depicted the lives and society as an essential element of the different fictional tales.

**Key Words:** *Laiq Zada Laiq, Mata Aina, Pashto Fiction, Technical and intellectual review.*

د پښتو ادب په زرخېزه مېدان کښې بعضې نومونه د هغه پړقېدونکو ستورو په مثال دي چې

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-07



ټول عمر ئې د شپې په تورتمونو کښې نورو ته تیارې لارې روښانه کړې دي او په خپله رڼا ئې لار ورکې مسافر خپل منزل ته رسولي دي او د نورو راتلونکو دپاره ئې ګام په ګام د بل مشالونو په مثال رڼاګانې او اسانتیاګانې پېدا کړي دي. د ادب په دغه درنو او خوږو نومونو کښې يو نوم د لائق زاده لائق هم دے چا چې د پښتو ادب جولۍ د ګڼو ملغلرو نه ډکه کړې ده. د عدنان انیس مطابق:

"لائق زاده لائق هم د سوات په مدين کوز کلي کښې د جنورۍ په 15 نېټه کال 1959 کښې د لعل جان کره زېږېدلے دے"[1]

ښاغلے لائق زاده لائق د سوات د ګلورينې سيمې مدين په خاؤره خړپوسې کړې دي. هلته ئې د سکول نه تر کالجه زدکړه کړې ده. په دې حقله عطاء الرحمان عطاء په خپل کتاب تجزيې کښې ليکلي دي:

"هغه په کال 1959 عيسوی کښې د سوات په مشهور کلي مدين کښې زېږېدلے دے او بيا ئې وروستو د سوات په مشهوره علمي او تاريخي درسګاه جهانزېب کالج کښې علم ترلاسه کړې دے."[2]

هغه که شاعري ده يا نثر، افسانه ده که ډرامه، کالم نويسي ده که براډ کاسټنګ په هر مېدان کښې ئې د خپل فکر نيلے زغلولے دے او داسې په فنکارۍ او هنرمندۍ چې د هغۀ قد قامت ئې نور هم اوچت کړے. د دے خدماتو په عوض هغوي په صدارتي اېوارډ هم نمانځلے شوے دے. غرض دا چې د هغوي ادبي هلې ځلې او کار او زيار په څو لفظونو کښې راغونډول زما د وس کار نۀ دے.

لائق زاده لائق ته الله پاک ډېر تخليقي صلاحيتونه پېرزو کړي وو. هغه ډېر عالم، فاضل

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-07
ماخذ تحقیقی مجلہ

او د زرخېزه ذهن مالک وۀ. پۀ پښتو اردو او سیاسیاتو کښې ئې ماسټر کړے وۀ او ایل ایل بي یې هم کړے ــ ایم فل ئې هم د پاکستاني ژبو او ادبیاتو نه شروع کړے وۀ. پۀ دې حقله ډاکټر عطاء الرحمان عطاء لیکي چې:

> "پۀ اردو او پښتو ادبیاتو کښې ئې د ښپاړسم ډګرئ ترلاسه کړي دي. د دې نه علاوه ئې پۀ سیاسیاتو کښې هم د ښپاړسم ډګري ترلاسه کړې ده او نن سبا د علامه اقبال پوهنتون نه پۀ پاکستاني ژبو او ادبیاتو کښې د ایم فل لوسته کوي."[3]

لائق زاده لائق د خپل عملي ژوند آغاز د هغوي د وینا مطابق د پېښور یؤ کالج کښې د لېکچرر پۀ حېث کړے وۀ خو لږه موده پس پېښور رېډیوسټېشن کښې هغوي ته نوکري ملاؤ شوه او هغوي هلته لاړل او تر رېټائرمنټ پورې پۀ رېډیو پاکستان پېښور کښې پۀ ډېرو مهمو عهدو کار ترسره کړۀ. د خپلو تخلیقي صلاحیتونو او ادبي زیرکۍ پۀ وجه هغوي ګڼ شمېر کتابونه تخلیق کړي دي او ناچاپ آثار ئې هم شته.ټول کتابونه ئې 39 دي اؤ دې کښې درې کتابونه د افسانو دي چې هغې کښې یؤ "بائللے داؤ" دے چې 2014 کښې چاپ دے، دویم "شلېدلي تارونه" چې 2016 کښې چاپ دے خو دلته زمونږ د بحث کتاب به "ماته آئینه" وي چې اول ځل 1999 کښې چاپ دے. د ماته آئینه کتاب پۀ حقله عدنان انیس لیکلي چې:

> "ماته آئینه د لائق زاده لائق اوله افسانوي مجموعه ده. زیاتي افساني ئې پۀ فني توګه پوره دي وحدت تاثر ئې ځانګړې خوبي ده. پلاټونه ئې مربوط دي اؤ پۀ دغه وجه د افسانې سسپنس پۀ کښې شته قاري د بوریت نۀ ښکار کوي. د لائق زاده لائق دا

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-07



افسانوي مجموعه د پښتو افسانې په سفر کښې خپل ارزښت لري"۴

لائق زاده لائق د زړۀ د ناروغۍ له وجې د کال 2023 په 30 اکتوبر د دې فاني دنيا نه سترګې پټې کړې او کډه ئې بار کړه. د پښتو ادب دا ځلنده ستورے د همېشه دپاره زمونږ له سترګو فنا شو. په دې ليکنه کې د هغه د افسانې د لومړي کتاب "ماته آئينه" فني و فکري کتنه وړاندې شوې ده.

فني جائزه

څنګه چې د ادب د هر صنف څۀ خپل اصول او قواعد وي او د هغې په چوکاټ کښې ليکوال د خپل فکر او تخيل اظهار کوي دغه رنګ د افسانې هم څۀ خپل عناصر دي او د هغو عناصرو د ترکيب نه افسانه په وجود کښې راځي. دلته اول "ماته آئينه" کښې دغه د افسانې عناصر ترکيبي باندې خبره کوو.

قيصه

د افسانې دپاره د ټولو نه لازمي څيز قيصه ده. د افسانې ټول بنياد په قيصه ولاړ وي. "ماته ائينه" کښې چې څومره هم افسانې دي ټولو کښې قيصه شته. لکه "شناختي کارډ" نومې افسانه کښې د کرمې قيصه ده چې پلار ئې حادثه کښې مړ شوے وي او دۀ تري ګړی او پېسې وېستې وي خو خبر نۀ وي. يا لکه "ټېټې سترګې" نومې افسانه کښې د ناز پرې قيصه ده چې د خان په کور کښې نوکره وی او مور ئې مړه وي. مشر خان ورسره په جبر جنسي تعلق وساتي او بيا مشر خان ووينې چې خپله لور ئې هم د ګنو د پټې نه راووځي. دا او داسې هره افسانه کښې زمونږ د معاشرې نه اخذ شوې قيصې موجودې دي.

پلاټ

د قيصې د بيانولو په وخت د واقعاتو ترمېنځه يو عقلي او منطقي تړون پکار وي. دا د

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-07
ماخذ تحقیقی مجلّہ

افساني د فن يؤ اهم عنصر دے. ماته آئينه کښې د هرې قيصې د بيانولو پۀ وخت د قيصې دننه د واقعاتو د رشتې اؤ تړون خيال ساتلے شوے اؤ ډېر پۀ بهترين انداز قيصه مخ پۀ وړاندې بوتللې شوې ده. لکه "ځادر" نومې افسانه کښې د کشمال خان د پلار د مرګ د واقعې ذکر ، د هغۀ د مور د ټي بي د بيمارۍ سخته شپه، سحر ئې خور چينې ته تلل، د کشمال خان قرآن را اخستل اؤ بيا تبر پۀ اوګه کېښؤدل اؤ کار ته تلل، د خور دپاره د نوي ځادر د اخستلو اراده اؤ هغې ته پېسې جمع کول اؤ بيا د دۀ د وس نه بهر کېدل دا ټول مختلف واقعات پۀ يؤ خاص منطقي اؤ عقلي ترتيب کښې پېئلي شوي دي.

کردار نګاري

افسانه کښې د قيصې بيانولو دپاره څۀ کردارونه لازمي وي اؤ دغه کردارونه د قيصې مطابق راؤړلې شي. د "ماته ائينه" د افسانو کردارونه هم د قيصې مطابق راؤړلي شوي.د کردارونو نفسيات اؤ عمر هم د قيصې مطابق دي اؤ زمونږ د سماج د فکري صورتحال ترجمان کردارونه دي. لکه "اخبار" نومې افسانه کښې چې ارشد د کمېشن ټسټ پاس کړي اؤ کوهاټ ته د رزلټ معلومات ته روان وي اؤ نزدې ده چې فوج کښې لوے افسر شي نو د هغۀ پۀ فلائنګ کوچ کښې د تګ دوران کښې نفسيات څۀ دا رنګ بيان شوي." هغه پۀ فلائنګ کوچ کښې د ناستو کسانو پۀ خبرو نۀ پوهېدو. هغۀ داسې محسوسوله لکه چې دا د هغۀ ماتحت سپايان دي. پۀ زړۀ کښې ئې هغوي ته د چپ کښېناستو حکمونه هم ورکول.پۀ فلائنګ کوچ کښې غږېدونکې موسيقي د هغۀ پۀ ذهن کښې داسې الول کېده. لکه چې دا هغۀ ته فوځي بېنډ غږېږي. د سړک پۀ خوا ولاړې ونې هغۀ ته د سلامۍ پۀ غرض ولاړ کسان ښکارېدل"

منظر کشي

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-07


د "ماته آئينه" پۀ ټولو افسانو کښې تر ټولو زوروَر څيز منظر کشي ده. هره افسانه کښې زورورہ منظرکشي ده خو يؤ څيز دا منظر کشي لره بې خونده کړي اؤ هغه يکسانيت دے.يعنې پۀ بېله بېله افسانه کښې خو ښه لګي ولې څوک چې دا ټولې افسانې ګوري نو منظرکشی د يکسانيت لۀ وجې به ئې خوند لږ کمېږي.هرځائے چې منظرکشي شوې. نو د وريځو، د اسمان د پړقا، د تندر اؤ داسې قسمه ماحول منظر کشي شوې.د مثال پۀ طور تندرونه نومې افسانه کښې وائي چې" د اسمان برېښنا نوره هم سيوه شوه د باران څاڅکي ورو ورو سيوا کيدل او ګل مرجانې د اسمان پۀ برېښنا کښې د خپل نا معلومه منزل لارې لټولې. هغه چې کله د مقبرې خوا ته ورسېده نو پښه نيولې شوه".

ژبه

د دې ټولو افسانو ژبه کښې هغه تخليقي خوند رنګ اؤ زوروَرتيا شته کومه چې د افسانې دپاره لازمي وي.ايجاز د افسانې لازمي عنصر وي اؤ د ژبې پۀ ذريعه دغه عنصر افسانه کښې ترسره کولې شي. دې افسانو کښې هم ډېرې خبرې پۀ لږو ټکو اؤ مختصر انداز کښې بيان شوې.د مثال پۀ توګه "ليکوال" نومې افسانه کښې د ليکوال تخيلاتي ژبه يا لکه "تندرونه" افسانه کښې هم د ماحول پۀ ذريعه تخيلاتي ژبه بيان شوې اؤ د افغان جنګ نه د متاثره مهاجرو د هجرت قيصه ډېره پۀ ايجاز اؤ جامعيت سره راؤړلې شوې.

بيانيه انداز

افسانه کښې د قيصې د مخ د بيانولو دوه لويې طريقې دي. يؤ براه راست د کردارونو د مکالمې پۀ ذريعه اؤ دويمه د راوي د بيان پۀ ذريعه. دا ټولې افسانې بيانيه انداز کښې ليکلې شوې.اګر چې څينې افسانو کښې لږه لږه د کردارونو پۀ ژبه هم قيصه مخ پۀ وړاندې بوتللې شوې ده لکه "استاذ ګاډے واپس کړه" نومې

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-07
ماخذ تحقیقی مجلہ

افسانه کښې یا لکه "تهېنکس ګاډ" نومې افسانه کښې یا "ما معاف کړه" نومې افسانه څۀ لړ لړ د کردارونو پۀ ژبه خبره شوې خو بنیادي طور دا بیانیه افساني دي یعني لیکوال پۀ خپله ژبه ټوله قیصه بیانوي.

## وحدت تاثر

دي ټولو افسانو کښې د وحدت تاثر هم پوره پوره خیال ساتلے شوے. اګر چې دا د لوستونکي د مطالعې، مشاهدې، ذوق اؤ موډ سره زیات تعلق لري خو ولې د لیکوال د فن کمال هم وي چې د قیصې پۀ تاثر کښې وحدت وساتي.

## فکري جائزه

څۀ رنګ چې د یؤ ادبي صنف څۀ فني اصول وي دغه رنګ هغې کښې د انسان اؤ د انساني ژوند پۀ حقله د یؤ نۀ یؤ اړخ فکري تړون هم وي یعني د ژوند د یؤ اړخ عکاسي ورکښې شوې وي. دلته د "ماته آئینه" نومې کتاب د افسانو پۀ فکري اړخ خبرې کوو.

## شناختي کارډ

دا افسانه زمونږ د سماج د یوې داسې کمزورئ طرف ته مونږ متوجه کوي کومه چې زمونږ د تهذیبي اؤ اخلاقي زوال غمازي کوي. د انسانیت نقاضا خو دا ده چې د حادثې پۀ وخت د متاثره کسانو هر قسمه مدد وکړے شي ولې کرمے د یؤ زخمي تن د جېب نه سامان پټ کړي چې بیا ئې کور وګوري هغې کښې ئې د پلار شناختي کارډ هم وي یعني هغه زخمي تن د کرمي پلار وي خو دۀ تیارۀ کښې نۀ وي لیدلي. دا یؤ غېر انساني اؤ غېر مهذبه عمل دے اؤ دا څۀ ډېر نا اشنا عمل هم نۀ دے بلکې نن سبا زمونږ معاشره کښې هم داسې بې حسي خوره ده.

## ټېټې سترګې

دا یوه جنسي افسانه ده اؤ کۀ د متل پۀ ژبه مونږ د دې ټولې افسانه مختصر معنا بیانوو

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-07
ماخذ تحقیقی مجلہ

نو وائي "چې څۀ کړې هغه به ربېږي". يعني خان چې د خپل کور د نوکرې سره څۀ وکړل هغسې ئې خپلې لُور سره وشول ـ

څادر

دې افسانه کښې زمونږ د ټولنې د غريبې طبقې د ژوند اؤ ارمانونو عکاسي شوے.کشمالے ډېر کوشش اؤ خوارئ مزدورئ وکړي خو خپلې خور ته يؤ نوے څادر قدرې وانۀ خستې شي. يعني يؤ څادر اخستل هم د هغۀ د وس خبره نۀ وي. د سرمايه دارانه نظام ترمخه چې مالدار ورځ تر ورځه مالدارېږي اؤ غريب ورځ تر ورځه لا خوارېږي. دلته د هم دغه طبقاتي کشمکش اؤ د هغې پۀ نتيجه کښې د غريب خواره ورځ ژړلې شوې ده.

ليکوال

وئيلې شي چې ليکوال اؤ اديب ډېر حساس اؤ باشعور انسان وي اؤ د خپلو ټولو خوبو پۀ وجه د قام سترګې ګڼلې شي خو ولې دې افسانه کښې د يؤ داسې ليکوال عکاسي شوې ده چې هغۀ کښې دوه رنګي وي يعني هغه پۀ ظاهره خو يؤ ليکوال وي خو دننه بې حسه اؤ منافق وي. يعني ليکوال خپله ښځه اګنور کړې ده اؤ پټ پۀ پټه ښار کښې د ښځې پۀ خپلوانو کښې يوې جينئ "روبي" سره د مينې تعلق ساتي. اخر ورته روبي وائي چې يؤ انسان خپلو بچو اؤ خپلې ښځې سره دهوکه کولې شي نو د هغۀ پۀ مينه يقين کول بې وقوفي ده اؤ پۀ دې ترې روبي لاړه شي. خپله ښځه ئې هم ترې سره د بچو لاړه شي اؤ ليکوال لېونے شي. دا د يؤ بې حسه بې شعوره اؤ منافق ليکوال درسته ترجماني ده اؤ داسې ليکوالان د علم و ادب پۀ سپينه لمن تور داغ وي.

ما معاف کړه

دا افسانه هم د رومان پۀ رنګ کښې د طبقاتي فاصلو ترجماني کوي. يعني د يؤ غريب هلک اؤ مالدارې جينئ مينه ده خو يک طرفه ده

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-07


اؤ دا ځکه چې هلک غریب دے اؤ جینۍ مالداره ده نو هلک کۀ ورسره هر څومره مینه کوي خو ماریه ورته اخر خط کښې ولیکي چې ما معاف کړه. دا د سرمایه داري طبقې هغه سپک نظر ته اشاره ده کومه چې هغوي د لاندې طبقه دپاره لري.

خیالے

دا هم یوه جنسي افسانه ده خو اشاره پۀ کښې زمونږ د سماج یوې داسې بنیادي مسلې ته ده چې د هغې خیال ډېر کم ساتلے شي یعني زمونږ ټولنه کښې زیات تره رشتې پۀ زور زبردستی اؤ د جینۍ د مرضی نه خلاف وشي نو وروستو هغې نه داسې قسمه مسلې پېدا کېږي چې هغه هم د پښتو خلاف وي اؤ هم د اسلام خلاف.

تهېنکس ګاډ

دې افسانه کښې جمال یؤ داسې کردار دے چې د یوې پېغلې د احساساتو خیال هم ساتي اؤ د خپل عزت اؤ حیا خیال هم ساتي. دا یوه روماني افسانه ده.

اخبار

دا افسانه د انساني ژوند د یؤ داسې اړخ عکاسي کوي چې هغه د انسان پۀ اختیار کښې نۀ ده یعني انسان کۀ هر څومره د خپلو ارمانونو د تکمیل دپاره خواري وکړي خو مرګ کله کله دومره بې وخته راشي چې هغه ټول پوره کېدونکي ارمانونه د خپل ټول سترې مزل باوجود منزل ته پرې نۀ ږدي. بله خوا دې افسانه کښې ارشد چونکې فوج کښې یؤ لوے افسر جوړېدونکے وي نو د وړاندې نه پرې د دغه محکمې د مغروره نفسیاتو اثر شوے وي اؤ هم دا د دې افسانې د معنویت یؤ بل کمال دے چې څنګه د یوې محکمې د مخصوصې رویې عکاسي کوي.

تور داغ

دا افسانه زمونږ د ټولنې د هغه ناقصه اؤ دوه رنګي ملایانو د منافقت ترجمانه ده چې عام

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-07

اولس ته د څهٔ درس ورکوي پهٔ هغې ئې خپله عمل نهٔ وي. خلقو ته د حیا پردي عزت وغیره درس ورکوي اؤ خپلې لونه ئې د دغه اوصافو نه ډېرې لرې وي.
دلته قدرت الله مولوي صېب اؤ د هغهٔ لونه زمونږ د ټولني د اکثره ملایانو د ژوند اؤ کورنو عکاسي کوي.

مور

دا افسانه د ښځې د اؤلاد نه وړاندې اؤ پس ته ژوند کښې د یؤ لوے جذباتي انقلاب ترجمانه ده. د کمال خبره دا ده چې د یوې ښځې دپاره د مور جوړېدو نه پس د ژوند سره د مستقلې وابستګی کوم خواهش اؤ ارمان پېدا شي دغه جذبات اؤ احساسات د یؤ نارینه افسانه نګار لائق زاده لائق لهٔ خوا وړاندې کېدل یؤ لوے کمال دے.

تندرونه

دا افسانه د افغانستان د اولس پاکستان ته د هجرت پهٔ حواله ده چې یؤ طرف ته هغې کښې سیاسي معاشي اؤ سماجي نقصان شوے وۀ خو بل طرف ته د هجرت کوونکو افغانانو د جذبو احساساتو اؤ ارمانونو قتل عام شوے وۀ اؤ خنداګانې پهٔ ژړاګانو بدلې شوې وې اؤ دا افسانه د هغه مظلومه افغان اولس د هم دغه رژېدلې ارمانونو اؤ زورېدلې احساساتو عکاسي کوي.

قتل

دا هم یوه جنسي افسانه ده اؤ د انسان د جبلې خواهشاتو اؤ د سماجي رشتو یؤ تقابل شوے دے یعني دلته د د سګمند فرائډ د اصطلاحاتو تر مخه د اډ (Id) اؤ سپر ایګو (Super Ego) تر مېنځه کشمکش روان وي اؤ دغه مقابله کښې سپر ایګو ته برے ترلاسه شي.
استاذ ګاډے واپس کړه

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-07



دا افسانه زمونږ ټولنه کښې د مذهبي انتهاپسندۍ په حقله ده. د اسلام او شريعت په نوم خلق راپاڅي او هم د هغوي نه انسانان او هم زمونږ مسلمانان ورونړه په تکليف کښې وي. دې افسانه کښې به د جنت ګل لُور نه مړه کېده که چرې په لاره د شريعت تحريک د کارکنانو په وجه ګاډے نه وه ايسار شوے.

ماته آئينه

دا افسانه د يو پښتون زلمي د نفسياتو عکاسي کوي. په خوارۍ مزدورۍ پسې لاهور ته تللے او بيا ورته يوه وړه شان نوکري هم ملاؤ شوې خو ضمير ګل چې د شاهي محلې د جنسي ماحول دننه خپل لمن پاکه ساتله يوه ورځ پښه وه ښوئېده او د شاهي محلې خوندونه ئې واخستل ولې واپس چې خپل کوارټر ته راغلے نو د خپلې محبوبې تصوير ئې هم راپرېوتو او شيشه هم د دې په کتلو ماته شوه. يعنې دے که يوه خوا خپلې مينې ته ملامته وه نو بله خوا خپل ضمير ته هم ملامته وه. دلته د شيشې د ماتېدو سره د انسان د عکس يعنې د دې د انساني تشخص ماتېدو طرف ته اشاره ده.دا د انسان د کردار په حقله بهترينه افسانه ده

اوچې اوښکې

دې افسانه کښې د غريب او بې وسه انسان د بد حاله ژوند عکس وړاندې شوے او د مالداره طبقې هغه رويه په کښې وړاندې شوې چې د خپل سپي د بيمارۍ خيال خو ورسره وي ولې د يتيمې يسيرې نوکرې "خوش نصيبې" د بيمارۍ ورسره هيڅ فکر نه وي.دا افسانه د طبقاتي کشمکش په نتيجه د پېدا شوې غېر انساني روېې او د استحصال د انتها غوره عکاسي کوي.

اخري خط

دا يوه روماني افسانه ده د سهېل او سيما د مينې قيصه په کښې بيان شوې. بنيادي طور دا افسانه يوې داسې نفسياتي مسلې طرف ته اشاره ده چې کله رشته د انسان د فطري جذباتو ترمخه

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-07



ونۀ شي نو هغه د ناکامۍ درد بیا پۀ باقي ژوند اثر انداز کېږي. خو دلته یوه کمزوري محسوسېږي اؤ هغه دا چې کۀ د مینې جذبه هر څومره شدیده وي خو کم از کم د وادۀ نه لس کاله اؤ بیا پنځویشت کاله اؤ بیا څلویښت کاله پس هم د مینې جذبه هم هغسې برقراره پاتې کېدل اؤ هغه هم د یؤ مخصوص تن سره نو دا ډېره غېر فطري خبره ښکاري

انصاف

دې افسانه کښې زمونږ د وطن د ماحول اؤ سیاسي اؤ انتظامي خرابۍ عکاسي شوې.زمونږ د وطن خلق د خپل چاپېرچل اؤ د ژوند د تېرولو پۀ ځائے ځائېږي بالکل پام نۀ کوي چې څۀ کېږي نو څوک ئې هم د تپوس نۀ وي اؤ بیا د کومو خلقو لاس کښې چې اختیار وي هغه خو بالکل بې حسه وي د چا مجبوري اؤ منت زاري ورته هډو څۀ ښکاري نۀ. خپلو عیاشو ته ئې د مېټنګ یؤ سنجیده نوم ورکړے وي اؤ غریب اؤ مجبوره اولس کړېږي. دا افسانه زمونږ د وطن د بې حسۍ ترجمانه ده

د شپې سیورے

دا هم پۀ روماني رنګ کښې رنګ د طبقاتي کشمکش غوره عکاسي ده. دې افسانه کښې د مالداره کورنۍ لۀ خوا پۀ سیالې مئین ګل باچا قتل شوے وي خو دې افسانه کښې کۀ یوه خوا د ټولنې د رومان پۀ حقله غېر انساني رویه بده ښؤدلې شوې نو بله خوا دا هم ښؤدلې شوې چې د خانانو لۀ خوا د ګل باچا قتل صرف د یؤ مئین اؤ غریب قتل نۀ وۀ بلکې دا د خپلې لور خور "سیالې" د جذباتو احساساتو اؤ ارمانونو قتل هم وۀ چې هغې ته ئې ژوند د مرګ نه زیات تریخ کړے وۀ.

حوالې

١:انیس ګل، عدنان، سوات کښې د پښتو افسانې ارتقاء، د بي ایس ناچاپه تهیسز، سېشن 2023، پښتو څانګه جهانزیب کالج سوات، مخ 118

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 5, Issue 2, (April to June 2024)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2024(5-II)urdu-07
ماخذ تحقیقی مجلہ

۲:عطاء، عطاء الرحمان، ډاکټر، تجزیې (تحقیقي او تنقیدی مقالې)، سوات، ګران خپرندویه ټولنه، جنوري 2023، مخ 143
۳:هم دغه، مخ 143.
۴:انیس ګل، عدنان، سوات کښې د پښتو افسانې ارتقاء، د بي ایس ناچاپه تهیسز، سېشن 2023، پښتو څانګه جهانزېب کالج سوات، مخ144.